داکتر صلاح‌الدین سعیدی

۲۰۲۵/۱۰/۱۷

# ذبیح الله مجاهد ته!

افغانستان د خپل تأریخ په خونړي دور کې نوي پړاو کې دی او د دونالد ترامپ گوت څنډنه د جنرال آصف منیر او شهباز شریف په غېر اسلامي، او غیر انساني کړنو او کړدو کې نوي جنایاتو ته د افغان ضد، افغانستان ضد او بشري ضد اعمالو نوي اثرات او نوي ثبوتونه دي !

په اوسني نا مشروع پاکستان کې میشت ولسونه او با عزته افغان ولس د پاکستان د تجاوزات غندنه او د تجاوز په مقابل کې ښکاره ولاړ دي !
تأریخ به د مخ تورو ، بو د گوتو په شمېر افغان دښمنو مقاومتیانو!؟ او د گردني د سر د غلو د بو شمېر د پاکستان په دفاع موقف او خاینانه افغان ضد مواضع هم په یاد ولري !
د وطن څخه د دفاع مواضع ستاسو د مطلق العنانه سرتمبه او غیر مشروع حاکمیت، د قانون د تعلیق او غیر مدونو او غیر مشروع قوانینو، حالت او موقف ملاتړ نه دي او ددې وضعې نه سوء استفاده نه ده پکار !
تاسي باید پوه شئ د پاکستان لویه اردو په سوله کې د بقا چانس نه لري! دغه ستري اردو مصارف په سوله کې پاکستان نه شي ورکولای! دوی باید جنگ جوړ کړي، ترڅو نړی وغولوي او جنرالان یې خپل جیبونه ډک کړي !
تاسي پوهېږئ، چې پاکستانی نظامي هوایي لوړ والی بر تاسو باندې، په هوا او تکنالوجي کې بر دی او د هوا له لارې به ستاسي مشران په هر نکته د افغانستان کې تر سرجیکل ستراېک لندې گذارونو او ډرون حملو لاندې راشي !
تاسي ته په کار ده مخکې له دې چې دربانډې نور هم ناوقته شي، دغو برخو کې مشخص ، مؤثر او مدبر عمل او اقدام وکړئ!
تکنالوجي او هوایي برخه کې متقابل امکانات د هند ، چین، روس نه تر لاسه کول ستر جرئت غواړي او دا کار درته نور مشکلات او داخلي ستونځي پیداکوي! خو نور فرصتونه له لاسه مه ورکوئ !
په مشخصو او معقولو اقداماتو د دښمنانو دسایس د افغان د ملت د پراخ ملاتړ په ذریعه، بي تأثیره کړئ! دا د خلکو د رضایت د حاصلولو په لار کې د مشروعیت لپاره متناسب کار به افغانستان او اسلام ته او خپله ځان او طالب تحریک ته په عالم اسباب کې مرسته وکړي ( تفصیل لرم!)
پاکستان مقابل کې به چین، هند او افغانستان او ددغه هیواد او پاکستان کې میشت ملتونه په ملاتړ کې درېږي!
پاکستان په ځانگړي توگه، امریکې ته ، د چین د تکنالوجی د اسرارو د افشاء په خاطر دچین قرضدار پاکستان به د چین د غضب سره هم مواجه کړي!
پاکستان ختمېدونکی او توټه کېدونکی دی! پاکستان کې میشت پښتانه، بلوڅ، سرایکي او حتی مظلوم پنجاب ملت به خپل سرنوشت په خپل لاس کې نیسی، مستقل به شي او بیا به سیمه کې د ایالات متحدۀ اروپا، ایالات متحدۀ امریکا او ایالات متحدۀ ...اسیا په شان د همکاریو او هرڅوک پر خپله خاوري د تسلط دوره رامنځ ته شي !
د سیمې په دغه حساسه مرحله کې مواضع، اظهارات او ناستي ډیرې حساسي او خطرناکي دي! لږ عدم دقت د سترو اضرارو موجب کېدای شي او کېږي!
اوس ددې لیک اصلی مطلب :
جنگي حالاتو کې د بو هیواد حاکمان ( دیفکتو او یا دی یوره) د مسایلو د حساسیت په خاطر مسایل او مواضع په لیکلی بڼه نشروي او لولي. داچې تاسي د تحریک طالبانو د استاځي په توگه د پاکستان د دوېیم پړاو د حملو په مورد ( ۲۰۲۵/۱۰/۱۵ ) خپل موقف او مواضع اظهاروئ او ملت سره شریکوئ، د قدر وړ او ښه خبره او کار دی !خو دا اظهارات او د میډیا یی وسایلو مخکې شوي اظهارات تأریخ او ساعت ستاسو اظهاراتو سره، نه شته، مونږ لیدونکي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

او اورېدونکي نه پوهېږو دا د کوم تأريخ اظهارات او مواضع دي. دا وړانديز مې پوښمېږ ميديايي ادارو ته پوه مياشت مخکې ولېږه او کورو هغوی دا وړانديز ومانه او عمل پرې کوي! بيا تأکيد کوم. د حوادثو نبض په سرعت روان دی، ټول رسالتمنده او ميديايي مواضعو اظهارات او معلومات د تآريخ په وړاندې کولو د صفحه پر مخ د تأريخ او حتی د ساعت په ليکلو وړاندې کړئ !
دوم: د افغانستان او پاکستان تر مېنځ سرحد أباسين، أټک او مارګله ده! مونږ حاضر يو هره نړېواله محکمه کې دا ثابت هم کړو او يا مونږ ولې ثابت کړو، مونږ يې تصرف او پنجاب دې محکمې ته شي او مونږ د خپلو کړو مشروعيت ثابتوو !
نو تاسې ولې دغه د اوس مغصوبه او مقبوضه افغانستان خاورو او د جنګ سيمو ته د پولې او پوله ساتو ځواک، سرحدي او د سرحدي ځواکونو خطاب او قلقلې کوئ؟
منم لږ احتياط مو کړای خو کامل نه دی!
اوسني پاکستان کې ميشت ولسونه نه ملت وو او نه د ملت د مشخصې، ځانګړتياوې، نه ګډتاريخ، نه ګډه ژبه، نه ګډې مدرسی او نه ګډې مقبرې لري !
د پاکستان ملي!؟ سرود :
شاد باش سر زمين پاک ...
دا نو اوس کومه ژبه شوه؟
د پاکستان ګويا د ايجادګر مفکر علامه اقبال باندې تهمت شته چې د پاکستان ايجاد ته کار کاوه، خو اقبال ليکي :
سارې دنيا سې اچها - هنوستان همارا
هم بلبل وطن هي ....
نو حالات چې داسې دي، تاسې په خپل ليکلې ، لوستل شوي سند او اعلاميه (۲۰۲۵/۱۰/۱۵) کې ولې پاکستان کې ميشت خلکو ته د پاکستان ملت خطاب کوئ؟
دا او داسې نور غېر مسؤلانه اظهارات چې په ښکاره نادرست ، کنتراپردکتيف او معکوس ې پايلې لري !
لطفاً اوس اوس خپلو خبرو او اظهاراتو ته کاري کميټه او اوپراتيفی کميسيون جوړ کړئ! زما منظور هغه پوځي کميسيون نه دی چې د پاکستان ارمي او استخبارات د پاکستان ملکي مشرانو ته ليکني او مقالې جوړوي، زما هدف او موخه هغه ټيم او مجموعی معقول کارول او په نهايت د امر کې د نطاق او مسؤل دولتی او حکومتی شخص انتخاب او عالم ته ځواب وينه ده !
د دولت او حاکميت د مشروعيت سؤال ثابت پاتې دی او هغه په نورو اقداماتو سمبېږی، خو اوس چې ديفکتو تسلط لری، نو ځان ورسره لږ څه عيار کړئ !
حاکميتونه او جبروتونه راغلل او لاړل او ستاسې اوسنی حاکميت زما د پورته تاکيد سند دی! نور به هم ځي !
هرکه آمد امارتي/عمارت نو ساخت
رفت و منزل به ديګری پرداخت
وآن ديګر پخت همچنين هوسي
اين امار ت به سر نبرد کسي
و من الله التوفيق
داکتر صلاح الدين سعيدی
۲۰۲۵/۱۰/۱۶
۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ